# بیزو او تمساح

# سریلانکایي کیسه

و، نه و، په سریلانکا کې دننه په یو ځنګل کې ګڼ شمېر وني وې او د دې ونو په منځ کې یو پراخه سیند بهېده. دلته د بیزو یو بچی له خپلې مور سره اوسېده. د بیزو بچی خوږ، کوچنی او خرمایي رنګه و، او دوه غټ غوږونه او یو غټ زړه یې درلود.

د بیزو بچي به هره ورځ د ونو ښاخونو ته پورته کېدلو. هغه له یوې ونې څخه بلې ته ټوپ واهه او کله چې سیند ته ورسید، نو ځان یې لاندې خوی کړ او یوازې د سیند په غاړه کښیناست. د بیزو بچي هیڅ ملګري نه درلودل؛ نورو حیواناتو نه غوښتل چې له ده سره لوبې وکړي، ځکه له ده څخه یې عمرونه زیات وو، له دې څخه یې په چټکی منډه وهله او ده په منډه کې نشو رانیولای.

د بیزو بچی به ماښام کور ته تلو او د مور په غېږ کې به ځملاستو. د بیزو بچي به ویل، «زه هیڅ ملګري نه لرم، چې لوبې ورسره وکړم،» مور به یې ځواب ورکاوه چې، «مه خپه کېږه بچیه، کله چې لوی شې، ډیر ملګري به پیدا کړې. د بیزو بچي به په ځواب کې ویل، «خو زه غواړم چې اوس ملګري ولرم!» مور یې په ځواب کې ورته وویل، «زه ستا ملګرې یم». «ززززز» هلک بیا خوب ویوړ.

یوه ورځ کله چې د بیزو بچی د سیند په غاړه کې ناست و، ناڅاپه یې دوه غټې غټې سترګې ولیدلې، چې له اوبو څخه راووتلې. دا سترګې رانږدې کېدلې، رانږدې کېدلې. ناڅاپه یو غټ سر له اوبو څخه راووت او د بیزو په بچي یې دومره زیاتې اوبه وشیندلې، چې هغه لوند او خیشت شو. له اوبو څخه یو لوی حیوان راووت، چې شین اوږد شونډک، تېره غاښونه او اوږده لکۍ یې درلوده.

د بیزو بچي په داسې حال کې، چې له ځانه یې اوبه څنډلې، وپوښتل «ته څوک یې؟»

حیوان ځواب ورکړ «څه..... زه تمساح یم،»

د بیزو بچي وپوښتتل «او زه یوه بیزو یم. کولای شو ملګري اوسو، نږدې ملګري؟»

تمساح وپوښتل «ملګري، ههـ، دا څه شی دی؟»

بیزو ورته وویل «د دې مانا دا ده، چې مونږ به یو ځای لوبې کوو او په یو بل به پام کوو،».

تمساح ځواب ورکړ «سمه ده، کولای شو ملګري اوسو، څه..... نږدې ملګري،»

بیا دوی یوځای لوبې وکړې:

*ویره – ویره – واپ، زما ملګری راغلی دی*

*ویره – ویره – واپ، له کوم ځایه راغی*

*ویره – ویره – واپ، هغه له اوبو نه راغی*

*ویره – ویره – واپ، دا ښه کار وشو*

ماښام دوی خدای په اماني وکړه او ژمنه یې وکړه، چې سبا ته به بیا ملاقات کوي. له دې وروسته بیزو په منډه کور ته ولاړ او خپلې مور ته یې وویل:

«ما یو ملګری پیدا کړی دی».

مور یې په خوښۍ ځواب ورکړ «اوه، څومره ښه، نوم یې څه دی؟»

«د هغې نوم تم ...... تم..... دی»

مور یې وپوښتل «پیشو ګی؟»

د بیزو بچي ځواب ورکړ «نه»

مور یې په لېوالتیا سره وپوښتل «سوی؟»

بچي یې ځواب ورکړ «نه»

مور یې ادامه ورکړه «غوا؟»

د بیزو بچي وویل « نوم یې تم، تم، تسماح دی!»

مور یې چیغه کړه «تمساح!، تمساح ګاني خطرناکه وي! هغوی نور حیوانات خوري، بیزوګاني خوري! تا ته اجازه نشته چې له تمساح سره لوبې وکړې.»

د بیزو بچی خورا خواشینی شو، ځکه تازه یې ځان ته یو ملګری موندلی و.

کله چې هغه د شپې لخوا څملاست، نو و یې نشو کړای چې ویده شي؛ ناڅاپه ورته یو فکر راپیدا شو:

سبا ته یې کېلې راوشکولې او له ځان سره یې تمساح ته یو ړې.

د بیزو بچي کېلې تمساح ته ورکړې او ورته ویې ویل: «وګوره، دلته لږه تازوه مېوه ده، ډېره خوندوره ده.» تمساح لږه کېله وخوړه او ویې ویل څه ..... هو، ډېره خوندوره»

د بیزو بچي ورته وویل «زه به تا ته هره ورځ تازه مېوه راوړم، خو بیا به ته له ما سره ژمنه وکړې، چې نور به هیڅکله نور حیوانات نه خورې.»

تمساح ژمنه وکړه، چې «څه... سمه ده.»

د بیزو بچي هره ورځ په یو قاب کې هر ډول خوندورې مېوې راوړې؛ کېلې، اناناس، کېوي، کینو او آم او له یو بل سره یې ساعت ښه تېر و. کله چې به ماښام شو، د بیزو بچي به کور ته خپلې مور ته ولاړ او تمساح به د مېوې قاب په شا کړ، د کور خوا ته به په لمبا و لاړ او مېوه به یې له خپلې مېرمنې سره شریکوله.

یوه ورځ د تمساح ښځې وویل: «تازه مېوه ښه خوند کوي، خو یو څه په کې کم دي، د بیزو زړه! څومره به ښه وي، چې له مېوې سره د بیزو یو کوچنی زړه وخورو» او له خپل خاوند څخه یې غوښتنه وکړه چې د بیزو بچي خپل کور ته راوبلي، تر څو د هغه زړه وخوري.

تمساح ورته وویل «څه.... خو هغه خو زما ملګری دی،».

ښځینه تمساح ځواب ورکړ «یو ملګری؟ دا څه شی دی؟ ما دا هیڅکله نه دي اورېدلي. «ایاهیر کړي دې دي، چې مونږ تمساح ګاني حیوانات خورو؟». هغې له خپل مېړه غوښتنه وکړه چې بېړه وکړي، ځکه چې ډېره وږې وه.

تمساح په لمبا د بیزو پر لوري ولاړه او هغه ته یې د ماښام ډوډۍ ته بلنه ورکړه. بیزو خوشاله شوه، خو یو شی یې په یاد شو:

د بیزو بچي وویل، « زه خو لمبا نشم کولای، څرنګه درسره کور ته ولاړ شم؟»

تمساح ورته وویل، «څه.... ته کولای شې چې زما په ملا کښېنې،». د بیزو په آند (نظر) دا یو ښه نظر و، نو له همدې کبله یې د تمساح شا ته ورټوپ کړ او له هغې سره د هغوی کورته د هغې ښځې ته ورغلل.

کله چې دوی د تمساح کورته نږدې شول، نو ښځینه تمساح د سیند پر غاړه ولاړه وه، د پخلنځي پیش بند یې اغوستلی و او په لاس کې یې یوه غټه کاشوغه وه او چمتو وه چې د بیزو بچی وخوري.

تمساح وویل، «داسي ده چې زما د ښځې د بیزو زړه ته زړه شوی و، نو ما ته دلته راوستلی چې هغه دې وخوري.»

د بیزو د بچي زړه په زوره زوره درزا کوله «درز- درز» او له وېرې رېږده! زه خو لمبا هم نشم کولای، څه باید وکړم؟ نا څاپه ورته یو فکر راپیدا شو:

د بیزو بچي وويل: «ما خپل زړه هیر کړی دی.» تمساح هیڅ پوه نه شوه او ځواب یې ورکړ «څه....... مقصد دې څه دی؟» بیزو ځواب ورکړ «ته خو پوهېږې......، زما زړه لوند شوی و، له دې امله مې راوایست او د وچېدو لپاره مې د سیند تر څنګ په لویې ونې کې ځوړند کړی دی.»

تمساح ورته وویل، «څه....... اوس به څه کوو؟ ښځه به مې په غوسه شي!»

د بیزو بچي ورته وویل، «بیرته باید لمبا وکړو او زړه مې راړو.»

تمساح ورته ویل، «ښه نظر دی،» او بیرته یې په داسې حال کې لمبا وکړه، چې د بیزو بچې یې په شا و.

کله چې دوی لویې ونې ته ورسېدل، تمساح بیزو ته وویل چې باید بېړه وکړي. د بیزو بچي د تمساح له ملا څخه لاندې ټوپ کړ او په بېړه ونې ته وخوت. له همدې امله تمساح نشو کولای چې هغه راونیسي. د بیزو بچي ورته وویل، «ته نور زما ملګری نه یې،» او کور ته یې منډه کړه. هلته یې د مور غېږې ته ورودانګل او ژمنه یې ورسره وکړه، چې له دې نه وروسته به د مور خبره مني او نور به هیڅکله له تمساح سره ملګرتوب نه کوي.

کیسه لاړه بکورو ته او زه لاړم شکرو ته.